مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

فدامحمد نومیر

۲۰۲۱/۱۲/۲۶

# تحریم

په کوم جرم کوم قانون باندې  مجریم یم
ولې ایستی دې مشروع کار کې اثیم یم

نه مې  قتل نه مې غلا کړې د چا ده
نه دښمن د کوم یو کس د چا غلیم یم

څله غواړې مې بې عدلو محکمو ته
نه اوښتی پر دیوال ستا د حریم یم

نه شریر نه فتنه گر یم ستا په شانې
نه ظالم او نه په ظلم کې سهیم یم

خپل عیبونه دې په تور تیلو پوښې
ستا د تور تیلو پاک لا زه قدیم یم

بد بویې نه دې انسان، حیوان په تینته
مسلمان یم، زه درمل د جرثیم یم

حق زما دې سرو منګولو کې نیولی
په څه باندې او په څه سبب تحریم یم

کلي ، کور ، ګاونډ مې بنه یم  پیژندلی
نه و چاته پر ملا مات لکه وو جیم یم

ماته غم د کنډواله کور دی تر غاړې
تا مې پلار په بمومو و واژه یتیم یم

زما د خپل د کلي کور راسره غم دئ
دښمنانو زما د خلکو ته جهیم یم

چې په سخته د نومیر یې ملګرې کړه
خپل ولس خپل پرګنو ته په تعظیم یم

۱۴-دیسمبر - ۲۰۲۱
متحده ایلات ، کلفورنیا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ